
# د پښتو

## د زده‌کړی اساسی قابلیتونه



دوهم ټولګی

# بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمْ

## سریزه

دا کتاب د ښوونکي له دری، پښتو او ریاضی د مؤخذ کتابونو د سلسلی څخه یو کتاب دی کوم چې په ۱۹۹۹ کال د تجربه کارو افغانی تعلیم یافته پوهانو د یوی ډلی پواسطه ترتیب شوی تر څو له ښوونکو سره د لازمی قابلیتونو په زده کړه او پوهه کې مرسته وکړي کوم چې د لومړنیو تعلیماتو پروګرام په تدریس کې ضروری دي. دا مواد د ډول ډول موادي منابعو په اساس په خاص ډول د موجوده افغانی لومړنیو درسی کتابونو څخه ترتیب شوی دي.

دا انکشافی کتابونه په لاندې ډول ترتیب شوی دي.

- پدی برخه کی شپږ کتابونه (د اول تر شپږم ټولګی پوری) موجود دي چې هر یو یې د یو ټولګی لپاره دی.
- هر کتاب یې د ژبی د قابلیتونو په یو لست مشتمل دي چی دا قابلیتونه د مربوط ټولګی د سویی ښکارندوی دی، او ښوونکی سره په دی هکله مرسته کوی چې کوم لازمی قابلیتونه باید تدریس شي.
- د لومړی ټولګی لپاره قابلیتونه عبارت دي له د لوستلو آمادګی، د مهارتونو زده کول، او د لیکلو مهارتونه (انشأ).
- دوهم نه تر شپږم ټولګي پوري قابلیتونه عبارت دي له:

اوریدل او لوستل، لغات، د مفاهیمو درک کول، گرامری جوړښتونه، املأ او انشأ.

- د پنځم او شپږم ټولگیو لپاره د مطالعې مهارتونه اضافه شویدي.

په لست کې ذکر شوو قابلیتونو هر یو په خاصو لسانی مهارتونو تقسیم شوی دي تر څو چې د ماشومانو مختلفو سویو انکشاف ته ځواب ووایي. د ښوونکی سره په پوهه کې مرسته کوی چې کوم مشخص لسانی انکشافی مهارتونه ضروری دي چې باید په هر ټولگی کې وښودل شي.

د هر ټولگی کتاب د هغه لسانی انکشافی مهارتونو مثالونه وړاندی کوي چې سرته رسول یې په یو خاص ټولگی کې ضروری دي.

- دا مثالونه په لومړی ټولگی کښې د تورو، کلمو او لندو متنونو په باره کې دي.

- د دوهم ټولگی څخه تر شپږم ټولگیو پوری مثالونه په لاندی ډول ترتیب شوی دي:

## د مفاهیمو درک:

کم لوسته متنونه د مفاهیمو د درک د سوالونو سره چې د اورېدلو او لوستلو مهارتونه د مفاهېمو د درک په اړوند وازمايي.

### گرامري جوړښتونه:

گرامري جوړښتونه د تمرينونو هغه مثالونه وړاندی کوي چې تدريس يې د هر ټولګی په سويه ضروري دی.

### املا ":

د املا " د خاصو مقرراتو او قوانينو هغه مثالونه وړاندی کوی چې په تدريج سره مغلق او مشکل کيږي.

### انشأ:

- د ليک د تمرينونو مثالونه وړاندی کوې چې په تدريج سره مغلق او مشکل کيږی.

دا مثالونه ښوونکي سره په لاندی ډول مرسته کوي:

- دا امر يقيني کوی چی ټول ښوونکی مربوط مهارت په ښو ډول استعمالوی .

- ښوونکي کولای شی چی دا مثالونه د دی لپاره چی آيا زده کوونکي مربوط مهارت زده کړی ده يا نه؟ استعمال کړی.

- ښوونکی کولای شی چی د دغه مثالونه په شان نور تمرينونه زده کوونکی لپاره جوړ کړی.

دا مؤخذ کتابونه نه يوازی د ښوونکو د استعمال له پاره دی بلکه د ښوونکو روزونکی هم ورڅخه استفاده کولای شی. چی د دې کتابونه

شخه د زده کوونکی د پوهی د آزموینی د پاره هم کار واخلی تر څو
چې د زده کوونکی مهارتونو ته انکشاف ورکړای شي.
ښوونکی کوولای شی چه اضافی مثالونه د تمرینونه له مخی جوړ کړی.

مفتیش (سوپروایزر) د دی لپاره مثالونه استعمالولای شی، چې معلوم کړی ماشومان په لسان کی لازمی قابلیتونه زده کړی دی یا نه؟
ترتیب کوونکی پدی هیله دی چی ټول افغانی ښوونکی به ذکر شوی مواد (کتابونه) له ماشومانو سره د کار کولو په برخه کی مفید او گټور ومومی.

## دا کتابونه د لاندیني موسسو په ګډون ترتیب شوی دي:

| | | |
|---|---|---|
| OI/HEP | Ockenden International | |
| | Hangu Education Program | د هنګو د ښووني او روزني پروګرام |
| UNCHS/ Habitat | United Nation Center for Afghanistan | هبیتات |
| IRC | International Rescue Committee | د ژغورني نړیواله کمیته |
| SCA | Swedish Committee for Afghanistan | د سویډن کمیته د افغانستان دپاره |
| SAB | Solidarite Afghanistan Belgium | د بلجیم سره د همبستګی اداره |
| GTZ-BEFARE | Basic Education for Afghan Refugees | د افغان د مهاجرو لپاره اساسی زده کړی |
| AIL | Afghan Institute of Learning | د افغان آموزشی انیستیتوت |
| CARE | Cooperative Assistance Relief Everywhere | پاملرنه |
| PSD | Partners for Social Development | د اجتماعی ترقی همکاران |
| SCF-US | Save the Children Federation - US | د ماشومانو د حمايي موسسه |
| NAC | Norwegian Afghanistan Committee | ناروی کمیته د افغانستان له پاره |
| ECAR | Education Committee for Afghan Refugees | د افغان مهاجرینو د ښووني او روزني کمیته |

| | | |
|---|---|---|
| AMNA | Creation of the Pilot Schools in Afghanistan | د نمونه يي ښوونځيو تشکيل په افغانستان کي |
| HCI | Human Concern International | د بشری مرستو بين المللی موسسه |
| Unicef | United Nation Children Fund | يونيسف |
| CCA | Cooperation Center for Afghanistan | متا |
| ASC | Afghanistan Study Center | د افغانستان د مطالعاتو مرکز |
| ISRA | Islamic Relief Agency | د اسرا اسلامی خيريه موسسه |
| | Afghan Teachers and Schools Union in Quetta | د کويټه د افغانی ښوونځيو او معلمينو اتحاديه |

## د پښتو د زده کړې اساسي قابلیتونه

## دوهم ټولګی

### د اوریدلو او لوستلو مهارتونه:

ماشوم به وکولای شي چې:

- توری به په لنډو او اوږدو آوازونو سره ولولی.

### لغات:

ماشوم به وکولای شي چې:

- د متن کلمې تشخیص کړې او ویې لولی.
- هغه کلمو ته چې یو شان او یا بر عکس معناوی لرې سره ارتباط ورکړې.
- د جملو د پوره کولو په خاطر په سمو کلمو سره تش ځایونو ډک کړې.

### د مفاهیمو درک:

ماشومان به وکولای شي چې:

- د هو او نه لنډ سوالونه ته د علامې په نخښبه کولو سره ځواب ورکړی.
- هغه سوالونه ته چې په (څوک، چیرته، کله، څه او ولی) باندی شروع کیږی ځواب ورکړی.

- د اساسي مطلب يا مفکوري تشخيص وکړي.
- د تفصيلاتو تشخيص وکړي.

**ګرامري جوړښتونه:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- د نارينه او ښځينه اشخاصو اشاروي، تمليکي او شخصي ضمايرو او د جمع او مفردو جملو استعمال وکړي.
- په حال او ماضي زمانو کې ساده افعال استعمال کړئ.
- د صفتونه استعمال کړي.
- اضافي توري استعمال کړي.

**املأ:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- توري او کلمې په درسته توګه ولیکي.

**انشأ:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- په پراګراف کې د جملو د پوره کولو په خاطر مناسبې کلمې انتخاب کړئ.
- د معنا دارو جملو د تشکيل په خاطر کلمو ته دوباره ترتيب ورکړي.

# دویم ټولګی

## پښتو

## لوستل او په مفهومونو پوهیدل:

### اختر

د اختر په ورځ کوچنیان لاسونه سره کوي.

په اختر کې ټول مسلمانان خوشحاله وي.

په اختر کې هر څوک نوي کالي اغوندي.

د اختر په ورځ خلک یو بل ته اختر مبارکي ورکوي.

پوښتنې درس مو د څه په باره کې ولوست ؟

--جشن --اختر --نوی کال

۱- خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

د اختر ورځې د --------- ورځې دي.

-- خوشحالۍ -- خفګان

کوچنیان د اختر په ورځ --------- کوي.

-- خوب -- لوبې

هرڅوک د اختر په ورځ ---------- کالي اغوندي.

-- زاړه -- نوي

۲- لاندېنيو پوښتنو ته په "هو" يا "نه" ځواب ورکړئ:

د اختر ورځې د خوشحالۍ، ورځې دي؟ ___هو.___

د اختر ورځې د مېلې، ورځې دي؟ ______

د اختر په ورځو کې کوچنيان، لاسونه سره کوي؟ ______

## زده کوونکي

زده‌کوونکي په خپل وخت ښوونځي ته ځي.

ښه زده‌کوونکي خپل کتابونه پاک ساتي.

زده‌کوونکي د خپل ښوونکي عزت کوي.

توربالی او میرویس یو ځای ښوونځي ته ځي.

زده‌کوونکي خپل درسونه په مینه لولي.

پورتنی درس د څه په باره کې دی؟

-- زده‌کوونکی -- ښوونکی

لاندېنیو پوښتنو ته په "هو" یا "نه" ځواب ورکړئ:

- ته ښوونځي ته ځې؟ __هو.__
- ته له درس سره مینه لرې؟ ______
- ستاسې کتابونه چټل دي؟ ______
- توریالی او میرویس بېلو بېلو ښوونځیو ته ځي؟ ______

د لاندېنيو پوښتنو ځواب پيدا کړئ:

- ميرويس چېرې ولاړ؟

--- ښوونځي

--- کلي

--- بازار

- زده‌کوونکي څه کوي؟

--- لوبې

--- جنګ

--- ټوکې

- د توريالي ملګری څوک دی؟

--- زلمی

--- شين ګل

--- ميرويس

# ښوونځی

زموږ ښوونځۍ زموږ کور ته نژدې دی.

په ښوونځي کې زده‌کوونکي درس لولي.

په ښوونځي کې د لوبو میدانونه شته.

زده‌کوونکي تر درس وروسته لوبې کوي.

د لاندېنیو کلمو معناوې پیدا کړئ:

| ښکلی | انګړ | ښوونځی |
|---|---|---|
| ( ) ښایسته | ( ) کوټه | ( ) مسجد |
| ( ) بام | ( ) بام | ( ) مکتب |
| ( ) پوه | ( ) حویلۍ | ( ) کور |

د پورتني درس موضوع څه وه؟

--- ښوونځی

--- کور

--- انګړ

لاندېنیو پوښتنو ته ځواب ورکړئ:

-تر درس وروسته زده کوونکي څه کوي؟

--- درس وايي

--- لوبې کوي

--- ډوډۍ خوري

- په ښوونځي کې زده‌کوونکي څه کوي؟

--- درس وايي

--- لوبې کوي

--- اودس کوي

- آیا زموږ ښوونځی د لوبو میدان لري؟

--- هو

--- نه

# کوچیان

کوچیان په کېږدیو کې ژوند کوي.
کوچیان مېږې، وزې او اوښان ساتي. کوچیان د ژمي تودو سیمو ته ځي.
کوچیان د اوړي په سړو سیمو کې ژوند کوي. ځوندی کوچی شپون دی.
کوچیان ډېر صادق خلک دي.

پورتنی درس د څه باره کې دی؟
--- د کوچنیانو
--- د کوچیانو
--- د ماشومانو

کوچیان د اوړي چېرې ځي؟
--- تودو سیمو ته
--- سړو سیمو ته

کوچیان څه وخت تودو سیمو ته ځي؟
--- د اوړې
--- د مني
--- د ژمي

د لاندېنیو کلمو معناوې پیدا کړئ:

| سیمې | کېږدۍ | صادق |
| --- | --- | --- |
| ( ) ځایونه | ( ) خېمه | ( ) دروغجن |
| ( ) ښارونه | ( ) کوټه | ( ) رښتینی |
| ( ) غرونه | ( ) څېره | ( ) هوښیار |

# سپارښتنه

لوی شې، زما ګران زویه
پاک ساته خپل ځان، زویه

کړې به د وطــن خدمت
کله چې شې ځوان، زویــه

دښتې دې سمسورې شي
دا مو دی ارمان، زویـــــه

پوښتنې مطلب په څه ډول لیکل شوی دی ؟

— شعر دی

— کیسه ده

— نه کیسه ده، نه شعر

پوښتنې سپارښتنه چا ته ده؟

— زوی ته

— پلار ته

— نیکه ته

# د سپارښتنې پاته

لاس له زده کړې وانخلې | واوره دا بیان زویه
تل اوسه په خوار غریب | ډېر ډېر مهربان زویه
ځای لري په زړونو کې | هر وخت ښه انسان زویه
ستا سکني ورونه دي | واړه افغانان زویه
کړې به لوړ همت بانددې | هر مشکل آسان زویه

پورتنی مطلب د څه په باب دی؟

___ د وطن د خدمت

___ د بل چا د خدمت

___ د کورنۍ د خدمت

پورتنی مطلب د چا د دوستۍ په باب لیکل شوی دی؟

___ د افغانانو

___ د کلیوالو

___ د پردیو

# سوله

سوله او آرامي د انسان د ژوند ضرورتونه دي.

ټول انسانان باید په سوله او آرامۍ کې ژوند وکړي.

د سولې په برکت ماشومان ښوونځي ته ، بزګران کروندو ته او کارګران کار ته ځي ، چې زموږ ښکلی وطن آباد شي.

په سوله او آرامۍ کې ټول انسانان خوشحاله وي.

سوله کول د خدای جل جلاله امر دی.

د لاندېنیو کلمو معناوې پیدا کړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| سوله: | ـــــ لوړ | ـــــ جګ | ـــــ آرامي |
| برکت: | ـــــ پاکوالی | ـــــ زیاتوالی | ـــــ نقص |
| بزګر: | ـــــ کارګران | ـــــ دهقانان | ـــــ ختېګر |

پورتنی درس د څه په باره کی دی؟

ـــــ د سولې

ـــــ د جنګ

ـــــ د پوهې

سوله د چا له پاره ښه ده؟

ـــــ د ماشومانو له پاره

ـــــ د ښځو له پاره

ـــــ د هر چا له پاره

# ټوکه

اتل : توریالیه، پرون شپه ویده شوی وی؟

توریالی : هو، ښه خوب مې وکړ .

اتل : څه دې په کې ولیدل ؟

توریالی : نه، څه مې ونه لیدل . ځکه چې زه په خوب کې سترګې پټوم.

د پورتنۍ لیکنې شکل څه ډول دی؟

—— نه شعر نه نثر

—— شعر

—— نثر

چا ښه خوب وکړ ؟

—— دواړو

—— اتل

—— توریالي

د توریالي سترګې په خوب کې څه ډول وې؟

—— غړېدلې وې

—— پټې وې

# شیدې خرڅونکی

یوه سړي شیدې خرڅولې او اوبه یې ورسره ګډولې.

یو سړی د ده له دې کاره سخت په غوسه شوی و. نو یوه ورځ یې دوه لوښي له ځان سره وروړل او د دکاندار مخې ته یې کښېښودل.

شیدې خرڅوونکي پوښتنه ځینی وکړه: «څنګه دې نن دوه لوښي راوړي دي؟»

هغه ورته وویل: « شیدې په یوه لوښي کې او اوبه په بل لوښي کې راته واچوه.»

شیدې خرڅوونکی ډېر شرمنده شو.

د پورتني لوست مطلب :

___ د خیانت غندنه ده.

___ د صداقت ستاینه ده.

___ ډېره ګټه ده.

شیدې خرڅوونکي په شیدو کې څه ګډول ؟

___ غوړي

___ کوچ

___ اوبه

# ټوکه

یوه زرکه پر یوه ډبره ناسته وه، ناڅاپه یې سترګې پټې شوې او ویده شوه. یوې ګیدړې پرې ورټوپ کړ او زرکه یې په خوله کې ونیوله ، زرکه راویښه شوه او پر ګیدړې یې غږ وکړ: « زه خو دې ښکار کړم، اوس د خدای جل جلاله شکر پر ځای کړه. « ناپوهې ګیدړې خوله پرانیسته، چې د خدای شکر پر ځای کړي. زرکه یې له خولې والوته. لرې پر یوه ډبره کښېناسته او وې ویل: «ورکه دې هغه خوله شي، چې نعمت یې نه وي خوړلی او شکر باسي!»

ګیدړې ورته وویل: « ورکې دې هغه سترګې شي، چې د خوب وخت نه وي او پټې وي!».

د لاندېنیو کلمو معناوې پیدا کړئ.

| ټوپ: | نعمت: | شکر: |
|---|---|---|
| ــــ خېز | ــــ ثنا | ــــ صفت |
| ــــ ګرځېدل | ــــ شکر | ــــ مننه |
| ــــ لوېدل | ــــ د خدای ورکړه | ــــ نعمت |

د پورتني درس مطلب

ــــ شعر و

ــــ ټوکه وه

ــــ چیستان و

# کتاب ښه ملګری دی

یو عالم یوازې ناست و او کتاب یې لوست . په دې وخت کې یو سړی ورغی او ورته یې وویل : « صاحبه، تاسې یوازې ناست یئ؟ »

عالم ورته وویل : « نه ، یوازې نه وم، خو اوس چې ته راغلې، کتاب مې بند کړ او یوازې شوم. »

د لاندېنیو کلمو معناوې پیدا کړئ؟

ملګری:

دوست ——

همځولی ——

ورور ——

عالم:

پوه ——

هوښیار ——

شتمن ——

یوازې:

دوه کسان ——

ډېر کسان ——

ځانته ——

د پورتني درس مطلب څه دی ؟

— د علم اهميت

— د لوستلو اهميت

— د کتاب اهميت

کتاب چا لوست ؟

— سړي

— عالم

— ملګري

کتاب څنګه ملګری دی؟

— بد

— ښه

— نه ښه، نه بد

کتاب ولې ښه ملګری دی؟

— ځکه چې د لوبو له پاره دی.

— توکې ټکالې پکې دي.

— زده‌کړه ورڅخه کېږي.

## زموږ کور

ښو کور دی زموږ خپل ښایسته دی لکه گل
دوه پکي طوطیان دي او دري په کې چرگان
څلور په کې کوټې دي څه غټې، څه وړې دي
پنځه لري مېزونه هم شپږ لري کتونه
اته بوټي د ونو او نه (۹) دي د گلونو
اووه یو ټول په شمار بابا هم مور و پلار
دا څومره ښایسته کور دی
زموږ د سترگو تور دی

پورتنی موضوع په څه ډول لیکل شوې ده؟

— د کیسې په ډول
— د شعر په ډول
— د ټوکې په ډول

ښایسته کور باید څه څه ولري؟

— ښې ونې ، ښه گلونه ، ښې کوټې
— ښه پاکي
— پورته دواړه ځوابونه صحیح دي.

له پورتني درس سره، سم په کور کې څو شیان دي؟

| | |
|---|---|
| طوطیان | دری |
| چرګان | پنځه |
| کوتې | اته |
| کتیونه | اووه |
| نفر | نه |
| ونې | شپږ |
| ګلونه | څلور |
| مېزونه | دوه |

# حساب په كك ، بخشش په لك

حاتم طايي ته ځوک ورغلل ويې ليدل، چې حاتم طايي په سوي تيلي ځراغ لګاوه. خلک ورته حيران شو .

حاتم طايي پوښتنه ځنې وکړه: « چې څنګه راغلي ياست؟» دوی زره نا زره ورته وويل: «زموږ ځلوښت اوښان په کار دي.» حاتم طايي بې درنګه ځلوېښت اوښان ورويخښل.

دوی ورته وويل : « ځو شيبې مخکې خو دې په يوه تيلي زړه نه کېده. ځلوېښت اوښان دې له واره راوبخښل! » ده ورته وويل: « حساب په کک دی او بخشش په لک.»

کلمې او معناوې يې سره ونښلوئ.

| | |
|---|---|
| حاتم طايي | ډېر لږ څيز |
| حيران | هک، پک |
| حساب | شمار |
| بخشش | د شمېر زياته اندازه |
| کک | د يوه شتمن نوم |
| لک | بخښنه |

د پورتني درس اصلي مطلب څه دی؟

ـــــ بخښل

ـــــ بخيلي

ـــــ مناسب لګښت

خلکو له حاتم طايي څخه څه غوښتل ؟

ـــــ تيلي

ـــــ ځراغ

ـــــ اوښان

# عادل پاچا

د روم پاچا، نوشیروان ته یو استازی ولېږه . استازي یوه ډېره ښکلې ماڼۍ ولیده، چې پاچا پکې ناست و. خو د ماڼۍ یوه خوا کږه وه. استازي له پاچا څخه پوښتنه وکړه، چې «د دې ماڼۍ دا خوا ولې کږه ده؟»

پاچا ورته وویل: ما چې دا ماڼۍ جوړوله، نقشه د یوې کونډې پر کور راغله او د هغې زړه نه و، چې کورېې وران شوی وای، نو ځکه ما خپله ماڼۍ کږه جوړه کړه او هغه مې خپه نه کړه.»

د لاندېنیو کلمو معناوې پیدا کړئ:

| | |
|---|---|
| عادل | خبر رسوونکی |
| ماڼۍ | با انصافه |
| ښکلې | قصر |
| استازی | ښایسته |

د پورتني درس اصلي مطلب کوم دی؟

—— ماڼۍ

—— بوډۍ

—— عدالت

استازی د کوم وطن و؟

—— د امریکا

—— د ایران

—— د روم

# اور څه ګټې او تاوانونه لري؟

ډوډۍ او خواړه پرې پخېږي، تیاره روښانه کوي، په ژمي کې بخارۍ او تاوه خانې پرې تودېږي.

اور خطرونه او تاوانونه هم لري. کالي او شیان سوځوي ، ځنګلونه او کورونه سوځوي. دا ټول له اور څخه په سم کار اخیستو یا نه اخیستو پورې اړه لري.

د لاندنیو کلمو معناوې پیدا کړئ:

| | |
|---|---|
| تاوان | زیان |
| خطر | ضرر |
| اړه | صحیح |
| سم | ارتباط |
| ناسم | خراب |

د پورتني درس مطلب څه دی؟

___ اور

___ په اور پخول

___ په اور بلول

په اور څه کوو ؟

___ ډوډۍ پرې پخوو .

___ کورونه پرې تودوو .

___ کورونه پرې رڼا کوو .

___ ټول سم دي .

د اور زیانونه کوم کوم دي ؟

___ سوځېدل ___ پخول ___ تودېدل

# بوډا او پاچا

یوه بوډا ونې کښېنولې. یو باچا ښکارته روان و . بوډایې ولید چې ونې یې کښېنولي. ورڅخه یې پوښتنه وکړه: «څه کوې چې په دې سپینه ږیره ونې لګوې؟ ته به یې مېوه وخورې، که نه؟

بوډا موسکی شو او ورته یې وویل: «نورو ونې کښېنولې وې، موږ یې مېوه وخوړه، اوس یې موږ کښېنوو چې نور یې مېوه وخوري.» پاچا د بوډا په خبره خوښ شو او انعام یې ورکړ.

د پورتني درس مطلب څه دی؟

— د بوډا ساعت تیری
— د بوډا همت
— د بوډا بېکاري

پاچا بوډا ته څه ورکړل ؟

— انعام
— مېوه
— ببل

بوډا پاچا ته څه وویل؟

— ونې ځان ته کښېنوم.
— ونې کښېنوم ، چې مېوه یې وخورم.
— نورو ونې کښېنولې وې، موږ یې مېوه وخوړه، اوس یې موږ کښېنوو چې نور یې مېوه وخوري.

# پر حیواناتو زړه سوی

وايي چه يو ډېر گنهکار سړی پر لاره تېرېده. يو سپی يې وليد، چې د تندې له لاسه مړ کېده.
زړه يې سخت پرې وسو او سمدلاسه يې خپله خولۍ په پټکي پورې وتړله او کوهي ته يې کښته کړه، اوبه يې راوايستلې. سپي وڅښلې او له مرگه خلاص شو. نو خدای جل جلاله دغه گنهکار سړی د دې ښه کار په کولو وباخښه.

د پورتنۍ کیسی اصلي مطلب څه دی؟

— بخښل

— کومک کول

— زړه سوی

سپی ولې مړ کېده؟

— تږی و.

— وږی و.

— ستړی و.

سړي سپي ته څه ورکړل؟

— ډوډۍ يې ورکړه.

— اوبه يې ورکړې.

— هېڅ يې ورنه کړل.

# تر ټولو ښه او تر ټولو بد شی

یوه شتمن سړي خپل آشپز ته وویل : «نن تر ټولو ډېر ښه خواړه راته پاخه کړه!»

آشپز ورته د پسه ژبه پخه کړه.

بله ورځ یې بیا ورته وویل: « ډېر بد خواړه راته پاخه کړه!»

آشپز بیا د پسه ژبه ورته پخه کړه.

شتمن سړي پوښتنه وکړه: «دا څنګه کېدای شي ، چې ژبه تر ټولو خوړو هم ښه او هم بده وي؟»

آشپز وویل: «که په ژبه ښه ووایې، نو تر ټولو ښه ده او که بد پرې ووایې تر ټولو بده ده . « ژبه هم کلا ده هم بلا »

د پورتنۍ کیسې اصلي مطلب څه دی؟

- ښه کول
- بد کول .
- د ژبې اهمیت.

ژبه ولې بده ده؟

- څکه بده ده ، چې دښمني څنې پیدا کیږي.
- څکه بده ده ، چې بد شیان پرې وایي.
- څکه بده ده ، چې که بده خبره وکړې ، خلک خوابدي کیږي.

ژبه ولې تر ټولو ښه ده؟

- څکه ښه ده، چې د سړي دوستان ډېروي.
- څکه ښه ده، چې په ښو خبرو سړی ښه ښکاري.
- دا دواړه پورتني څوابونه سم دي.

# الوتونکي

په دنیا کې ډول ډول الوتونکي شته . زموږ په هېواد کې هم ډېر الوتونکي پیدا کېږي. ځینې یې ډېر ښه آوازونه وایي، لکه بلبل ، کوترې ، زرکې او داسې نور.

موږ باید الوتونکو ته زیان و نه رسوو چې شمېر یې ډېر شي او وطن مو پرې ښایسته وي.

د لاندېنیو کلمو معناوې پیدا کړئ:

| | |
|---|---|
| الوتونکي | هېواد |
| زیان | ضرر |
| شمېر | مرغان |
| وطن | تعداد |

د پورتني درس مطلب څه و؟

موږ باید له مرغانو سره څه وکړو؟

— مرغان وو.

— ونې وې.

— اوبه وې.

— ښکار یې کړو.

— مړه یې کړو.

— ویې روزو او زیان ور و نه رسوو.

# انسان

انسانان ټول یو شان پیدا شوی دی. هر انسان خپل عزت لري. تور پر سپین او سپین پر تور لوړوالی نه لري . خو هغه انسان تر نورو ښه دی، چې نېکخویه وي، ښه کارونه کوي او نورو ته یې ګټه رسېږي.

د لاندېنیو کلمو معناوې پیدا کړئ:.

| | |
|---|---|
| نېکخویه | قدر |
| یوشان | خوش اخلاقه |
| عزت | برابر |

کوم انسان ښه دی؟

— چې ښه سپین وي.

— ښه ښایسته وي.

— چې نېکخویه وي او ښه کارونه کوي.

# دويم ټولګی

## پښتو

### ګرامري جوړښتونه:

۱- ښه په ځير يې ولولئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| زه | ته | موږ | تاسې | دوی | دا |

مثال:

| | |
|---|---|
| زه باغ ته ځم. | موږ باغ ته ځو. |
| ته باغ ته ځې. | تاسې باغ ته ځئ. |
| دی باغ ته ځي. | دوی باغ ته ځي. |
| دا باغ ته ځي. | دوی باغ ته ځي. |

۲- پورتني مثال ته ځير شئ او لاندې جملې بشپړې کړئ:

| | |
|---|---|
| زه ______ لوبې کوم. | ______ لوبې کوو. |
| ______ لوبې کوې. | ______ لوبې کوئ. |
| ______ لوبې کوي. | ______ لوبې کوي. |

| | |
|---|---|
| زه سبق ___وایم___ . | مونږ سبق ______ . |
| ته سبق ______ . | تاسې سبق ______ . |
| دی سبق ______ . | دوی سبق ______ . |
| دا سبق ______ . | دوی سبق ______ . |

زه سهار وختي لمونځ کوم، خو پرون مې ناوخته لمونځ وکړ.

احمد په اوړي کې د غرمې بیدېږي.

۳- د پورتني مثال په شان لاندېنۍ جملې په مناسبو کلمو پوره کړئ:

ژمی        وختي        پرون        وخت

زه په خپل ______ ښوونځي ته ځم .

احمد ______ کابل ته ولاړ .

شاگردان په ______ کې رخصت وي.

خوشحال سهار ______ له خوبه پاځي.

مثال: احمده، دلته راشه. کتابونه پر مېز کښېږده. پر چوکۍ کښېنه.

٤- د پورتني مثال په شان لاندېنۍ جملې په مناسبو کلمو پوره کړئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| چوکۍ | ټولګی | دلته | هلته | غړه |

راځه په ______ کښېنه.

زموږ ښوونکی په ______ کې درس راکوي.

احمده ______ راشه.

شفيقې ______ ولاړه شه.

رمه په ______ کې څري.

٥- لاندېنۍ کلمې ښه په ځير ولولئ:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زه | موږ | ته | تاسې | دی | ما | دوی | دا |

| | |
|---|---|
| زلمي زه وليدم. | زلمي موږ وليدو. |
| زلمي ته وليدې. | زلمي تاسې ولیدئ. |
| ما دی وليد. | ما دوی وليدل. |
| ما دا وليده. | ما دوی وليدې. |

۶- پورتني مثال ته ځير شئ او لاندېنۍ جملې پوره کړئ:

| | |
|---|---|
| کريم ______ وليدم. | کريم ______ وليدو. |
| کريم ______ وليدې. | کريم ______ وليدئ. |
| ما ______ وليد. | ما ______ وليدل. |
| ما ______ وليده. | ما ______ وليدې. |

| | |
|---|---|
| احمد زه ______ . | احمد مونږ ______ . |
| احمد ته ______ . | احمد تاسې ______ . |
| ما دی ______ . | ما دوی ______ . |
| ما دا ______ . | ما دوی ______ . |

| | |
|---|---|
| دا قلم سور دی. | هغه بوټی شين دی. |
| کار ښه دی. | بېکاري بده ده. |
| پوهه رڼا ده. | جهل تياره ده. |

۷- د پورتني مثال په شان لاندېنۍ جملې پوره کړئ.

| | |
|---|---|
| واوره ______ ده . | تخته ______ ده . |
| ورځ ______ ده . | شپه ______ ده . |
| واده ______ ده . | مرگ ______ دی . |
| احمد پوه دی . | زېړگل ______ و . |

لاندېني مثال ته ځير شئ .

| | |
|---|---|
| دا یو کتاب دی. | دا دوه کتابونه دي. |
| دا قلم دی. | دا درې قلمونه دي. |
| دا یو زمری دی. | دا شل زمریان دي. |
| دا بوډا دی. | دا بوډاګان دي. |

۸- د پورتني مثال په شان لاندېنۍ جملې بشپړې کړئ:

| | |
|---|---|
| دا ______ دی. | دا دوه چرګان دي. |
| دا یو پنسل دی. | دا شپږ ______ دي. |
| دا یوه ______ ده. | دا درې کوټې دي. |
| دا یوه پیشو ده.. | دا ______ دي. |
| دا یوه تخته ده. | دا څلور ______ دي. |
| دا ______ دی. | دا دوه بوټان دي. |
| دا یو سړی دی. | دا ______ دي. |

# دویم ټولګی

## پښتو

## املا

۱- د (؟ او .) نخښو ته په لاندېنیو مثالونو کې ځیر شئ:

زه کابل ته ځم . ته هم ځې ؟ هو .

غاټول لس کلن دی . ته څو کلن یې ؟ زه لس کلن یم .

۲- د لاندېنیو جملو په پای کې د (؟ یا . ) نخښې ولیکئ:

ته د کوم ځای یې — زه د کندز یم —

ته څو ورونه لرې — زه دوه ورونه لرم —

تاسې څوک یاست — موږ افغانان یو —

# احمد او سورګل

احمد : سورګله، ته څو کلن یې؟

سورګل: زه اته کلن یم.

احمد : احمده ته څو کلن یې؟

احمد : زه هم اته کلن یم.

د پورتني مثال په شان لاندېنۍ جملې په "؟ ، : ، ! ، ." په نخښو پوره کړئ:

احمد ــــ سورګله ته څو ورونه لرې ــــ

سورګل ــــ زه درې ورونه لرم ــــ

احمده ــــ ته ورونه لرې ــــ

سورګل ــــ هو زه دوه ورونه لرم ــــ

د «ي» شکل ته وګورئ او لاندېني کلمات ولولئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ی | ي | ې | ۍ | ئ |
| سړی | طوطي | کې | هګۍ | راځئ |
| ٥ | ٤ | ٣ | ٢ | ١ |

پورتني ،مثال ته وګورئ او لاندېنۍ کلمې د «ې ګانو» له مخې په جدول کې پر ځای کړئ:

ډوډۍ لولي لولې ځئ پاڅئ وړې
لمسی شړۍ سړی لاندې لمسۍ کوي

د جدول کلمات ولولئ او حلقه شوېو آوازونو ته ځیر شئ:

| | | |
|---|---|---|
| بوټ | تال | تیر |
| توت | مار | مېز |
| ۱ | ۲ | ۳ |
| | | |
| | | |
| | | |

لاندېنۍ کلمې په پورتني جدول کې ځای کړئ:

کوټ تار پال توپ مال کور مور
نیل شین چین دین باز ښار

# پلار او لور

پلار له لور څخه پوښتنه وکړه : « ښوونځی ته تللې وې؟ »

لورېې ورته وویل : « هو. »

پلار وویل : « ښوونکی مو ښه درس درکوی ؟ »

لور: نه، پلاره. ښوونکی نه پوهیږي . ځکه، پرون یې راته وویل: درې او ځلور اووه کېږي او نن یې وېل، چې دوه او پنځه اووه کېږي.

پورتنی مطلب په خیر ولولئ او ووایئ، چې له لاندېنیو جملو څخه کومې جملې سمې دي:

| | | |
|---|---|---|
| دا ښوونکی دی: | دا ځلور کتابونه دي. | دوه او پنځه اووه کېږي. |
| √ دا ښوونکی دی. | دا سلور کتابونه دي. | دری او پنځه اووه کېږی. |
| دا خوونکی دی. | دا ثلور کتابونه دي. | یو او پنځه اووه کېږي. |

لاندېنی مطلب په غور سره ولولئ:

## سوې ډوډۍ

ناروغ ډاکټر ته ورغی او ورته یې وویل: «ناروغ یم ،ګېډه مې خوږېږي.»
ډاکټر پوښتنه وکړه: «څه دې خوړلي؟»
ناروغ ورته وویل: «سوې ډوډۍ.»
ډاکټر وویل: «اول دې د سترګو علاج وکړه ، ځکه، که سترګې دې روغې
وای، سوې ډوډۍ به دې نه خوړه.»

په لاندېنيو جملو کې کومه نخښه صحیح ده ؟ په نخښه شویو ځایو کې یې
ولیکئ:

ناروغه ډاکټر ته ورغی ______ ( ؟ . )
څه دې خوړلي دي ______ ( ؟ . )
سوې ډوډۍ مې خوړلې ده ______ ( ؟ . )

# دویم ټولګی

## پښتو

### انشا

۱- لاندېنۍ جملې په مناسبو کلمو بشپړې کړئ:

| |
|---|
| انګړ |
| ګلان |
| ښوونځي |
| کور |

زمونږ ——— ته ښوونځي نژدې دی .

مونږ په ——— کې درس لولو .

په ښوونځي کې ——— شته .

د ښوونځي په ——— کې ګلان شته .

۲- له لاندېنیو کلمو څخه جملې جوړې کړئ:

مثال:

| |
|---|
| د |
| زه |
| افغانستان |
| **یم** |

<u>**زه د افغانستان یم .**</u>

| ۳ | ۲ | ۱ |
|---|---|---|
| دین<br>اسلام<br>دی<br>اکثر<br>زمونږ | روغتیا<br>ته<br>ګټه<br>پاکوالی<br>رسوی | زمونږ<br>دی<br>کور<br>وطن<br>**زمونږ** |

۱ ______________________________

۲ ______________________________

۳ ______________________________

لاندېنۍ کلمې په مناسبو تشو ځایونو کې ولیکئ.

| |
|---|
| واده، ډوډۍ، چای، ناوې، جامې، زوم |

## د پلوشې د خور واده

پلوشه د خور په ______ کې ډېر شیان وینې.

خلک کله ______ خوري کله ______ څښي.

ټول خلک په واده کې نوې ______ اغوندي.

د واده هلک ته ______ او نجلۍ ته ______ وایي.

**Supported and coordinated by UNICEF and Save the Children (USA)**

Printed at Intol Printing and Packaging